# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Ideological | مسایل ایدولوژیک |
|---|---|



ی. و. ستالین
ژباړه: فرهاد ویاړ


## د دیالکتیک ماتریالیزم او تاریخي ماتریالیزم په اړه

(دویمه برخه)

**ج.)** دیالکتیک د متافیزیک په خلاف د تکامل بهیر، د ودې او پرمختیا یو ساده بهیر چې په کې کمي بدلونونه په کیفي بدلونونو وانهوړي، نه ګڼي؛ بلکې هغه تکامل یې ګڼي چې له کمي کم اهمیته او خوندي بدلونونو څخه چې په ځرګنده او بنسټیزه کیفي بدلونونو اوړي، لاس ته راغلي وي. د دیالکتیک متود وایي، چې په دې بهیر کې کیفي بدلونونه ورو ورو نه بلکې چټک او ناڅاپي وي او په یوځلي له یو حالت څخه بل حالت ته بدلیږي، د دې بدلونونو حدوث ناڅاپي نه بلکې قانوني دي او د نامحسوسه او تدریجي کمي بدلونونو د تراکم په پایله کې رامنځ ته کیږي.

له دې امله د دیالکتیک متد، د تکامل بهیر یو دوراني حرکت چې د تیرو پړاونو تکرار وي، نه ګڼي؛ بلکې هغه یو مخ په وړاندې او صعودي او د مخکني کیفي حالت څخه نوي کیفي حالت ته او له بسیط څخه مرکب او له ټیټوالي څخه لوړوالي ته یو تکاملي حرکت ګڼي.

انګلس وایي:

« طبیعت د دیالکتیک معیار او د محک ډبره ده او نویو طبیعي علومو د دې آزمایښت لپاره فوق العاده شتمني وسیلې او مواد چې هره ورځ د زیاتیدو په حال کې دي، چمتو کړي او په دې ډول ثابتوي چې بالاخره د طبیعت ټول شیان نه د متافیزیک له لارې بلکې په دیالکتیکي ډول تر سره کیږي. طبیعت په یوډوله او مکرر توګه پر یوې دایرې حرکت نه کوي او وهلې لاره له سره نه نیسي، بلکې یو حقیقي تاریخ لري چې شا ته یې پریږدي. دلته باید له ټولو زیات له داروین څخه یادونه وکړو چې په دې اثبات سره چې اوسنۍ ټوله ارګانیکه نړۍ له بوټو او ژویو څخه تر انسان پورې ټول د تکاملي بهیر محصول دي او د تکامل دې بهیر میلیونونو کلونه دوام درلودلی، پر متافیزیکي نظریې سخت ګوزار کړی دی.» (ک. مارکس او ف. انګلس، ۱۴ ټوک، ۲۳ مخ).

انګلس، د دیالکتیکي تکامل، چې پر کیفي بدلون د کمي بدلون اوښتل دي، د توصیفولو وروسته داسې وایي:

« په فیزیک کې... هر بدلون له کمیت څخه کیفیت ته لیږدیدنه ده او د حرکت د هغې کچې کمي تغییر دی چې یا په خپله جسم او ذات کې وي او یا هم هغه ته وارد شوی وي. مثلاً په پیل کې د اوبو د حرارت درجه د اوبو په خوټیدو

کي کومه اغیزه نلري، خو که چیري حرارت ډیر یا کم کړو داسي شیبه رارسیږي چي د اوبو ذري په یو حالت کي په بخار او په بل حالت کي په کنګل بدلیږي.... او همدا ډول د الکتریک بهیر حداقل اندازه لازمه ده چي د پلاټین یو مفتول روښانه او ولګوي، په همدې ډول هر فلز د ذوب کیدو لپاره د حرارت ځانګړې درجي ته اړتیا لري، یا دا چي هره مایع، د یوه معلوم فشار لاندې، یو ځانګړی ټکی لري چي په دغه ټکي کي کنګل کیږي او یا تر هغه ځای پورې چي مونږ وکړای شوو ورته لازم حرارت برابر کړو، جوشیږي. او بالاخره د هر ګاز لپاره د فشار ځانګړې درجه موجوده ده چي په دغه درجه کي کولای شوو د فشار او برودت د معینو شرایطو لاندې دغه ګاز په مایع بدل کړو.... هغه ثابته مقادیر چي په فیزیک کي مصطلح دي ( هغه ټکي چي په کي یو حالت په بل حالت بدلیږي – ی. ستالین) غالباً هغه مهم ټکي دي چي په کي د کمي حرکت ډیرول او کمول (تغییرات) په یو جسم کي د کیفی تغییر لامل کیږي او په پایله کي کمیت په کیفیت بدلیږي.» (ک. مارکس او ف. انګلس، ۱۴ ټوک، ۵۲۷ – ۵۲۸ مخ ).

انګلس وروسته له دې بیا د کیمیا موضوع راخلي او وایي:

«کیمیا،کولای شوو د اجسامو د کیفی تغییراتو علم وګڼو چي د کمي ترکیب او تغییر تر اغیزې لاندې رامنځته کیږي. هګل هم په دې مسئلي پوهیدو... د ساري په توګه اکسیجن په پام کي ونیسو: که په یو مالیکول کي د دوو معمولي اتومونو پر ځای درې اتمه اکسیجن کیږدو د ازن په نامه یو نوی جسم رامنځته کیږي چي ښکاره ده چي هم له بوي او هم د خپل فعل او انفعالاتو له پلوه د معمولي اکسیجن سره توپیر لري، د ازت یا اورلګید سره د اکسیجن بیلابیل نسبتونه خو پریږده چي هر یو یې نوی جسمی جوړوي چي د کیفیت له پلوه د مخکني اجسامو سره بیخي توپیر لري!» (ک. مارکس او ف. انګلس، ۱۴ ټوک، ۵۲۸ مخ).

بالاخره انګلس له دورینګ څخه، چي هګل یې له ټولو اړخونو رټلی دی او په ورته وخت کي د هګل مشهوره قاعده: چي د بی ځانه نړی څخه ژوندی نړی او د غیر ارګانیکي نړی څخه ارګانیکي نړی ته عبور، نوی وضعې ته اوښتنه ده؛ په ټټه اخیستلي، نیوکه کوي او وایي:

«دا په بشپړه توګه د هګل د سنجش د اړیکو هماغه غوټه لرونکی لړی ده چي د هغې په ځانګړي ټکو کي کمي کمونه او ډیریدنه، د کیفي اوښتني (جهش) لامل کیږي. د ساري په توګه دیخو اوبو او د تودو اوبو د خوټیکیدنې او کنګل کیدنې ټکي هغه غوټي دي چي په دې غوټو کي د ځانګړي فشار سره نوي حالت رامنځته کیږي او په پایله کي کمیت په کیفیت بدلیږي.» ( هماغه کتاب، ۴۵ ـ ۴۶ مخ).

**د.)** دیالکتیک د متافیزیک د اصولو پر خلاف باور لري چي د طبیعت پدیدې او اجسام په خپل منځ کي هم تضادونه لري ځکه چي هغوی یو مثبت قطب او یو منفي قطب، یوه تیره او یوه راتلونکې لري، هغوی ټول داسي عنصرونه لري چي یا د ودې او تکامل په حال کي دي یا د نابودی او زوال لاره وهي. د دې تضادونو مبارزه؛ یعني د پخواني او نوي په منځ کي مبارزه؛ یعني د هغه چي مري او هغه چي دنیا ته راځي په منځ کي مبارزه؛ د هغې چي له منځه ځي او هغه چي پرمختګ کوي تر منځ مبارزه؛ د تکاملي بهیر او کیفي تغییراتو ته د کمي تغییراتو دننني منځپانګه ده.

له دې امله دیالکتیک متد په دې باور دی چي د ادنی څخه عالي ته د تکامل بهیر؛ د پدیدو د همغږي تکامل او پراختیا نتیجه نه ده، بلکي برعکس د شیانو او پدیدو د دننني تضادونو د څرګندیدنې او د همدې تضادونو پر اساس د متضادو تمایلاتو تر منځ د یوې «مبارزې» په جریان کي تر سره کیږي.

لنین وایي:

«ديالکتيک د کليمي په واقعي مانا عبارت دی د اشياؤ د منځپانګي په دننه کي د تضادونو له پيژندني څخه» (لنين «فلسفي يادښتونه» ۲۶۳ مخ ، روسي چاپ).

او بيا ليکي:

«تکامل، د تضادونو مبارزه ده» (لنين، ۱۳ ټوک، ۳۱۰ مخ، روسي چاپ)

دا و د مارکسيستی ديالکتيکي متد د اصلي ځانګړتياو لنډون. د دي پوهيدل چي د ټولني په تاريخ او ټولنيز ژوند کي د ديالکتيک متد پراخول څومره ستر اهميت لري او د ټولني په تاريخ او د پرولتاريا ګوند په عملي فعاليتونو کي يې کارول څومر زيات اهميت لري، کوم ستونزمن کار نه دی.

کله چي په نړی کي منفردې او بيلي پديدې نشته او که په رښتيا ټولي پديدې له يو بل سره تړلي او متقابلاً مشروطي دي، څرګنديږي چي په تاريخ کي د هر ټولنيز رژيم او يا هر ټولنيز غورځنګ په اړه نبايد د ډيرو مورخينو په شان د «ابدي عدالت» يا بلي ايده ی له مخي چي دمخه غوره شوی ده؛ قضاوت وکړو، بلکي هغه بايد د هغو شرايطو له پلوه چي دا رژيم يا ټولنيز غورځنګ يې رامنځته کړی او له هغي سره تړاو لري، په پام کي ونيسو.

ښکاره خبره ده چي په اوسني شرايطو کي د بردګی رژيم يو بی مانا او احمقانه او غير طبيعي رژيم دی، خو همدا د بردګی رژيم د لومړني کمون د رژيم د پاشيدلو په شرايطو کي په بشپړه توګه يوه منطقي او طبيعي پديده وه، ځکه چي د لومړني کمون په پرتله، يو قدم مخی ته و.

د تزار حکومت په شرايطو کي د دموکراسی پر بنسټ د يوې بورژوازي جمهوری د جوړولو او د ۱۹۰۵ کال په روسيه کي د ساري په توګه د بورژوازي ټولني غوښتنه په بشپړه توګه په ځای او سمه او انقلابي غوښتنه وه، ځکه په هغه وخت کي پانګواله جمهوري يو ګام مخی ته وه. خو په اوسني شرايطو؛ يعني د سوسياليستي شوروي د جمهوريتونو د اتحاد په شرايطو کي د يوې بورژوازي جمهوري غوښتنه بی معنی او د انقلاب ضد غوښتنه ده، ځکه داسي يوه جمهوري د شوروي جمهوري په پرتله شاتګ شميرل کيږي.